## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**21قوس_سال 1403**

خبرنامه





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

د ولایتي مسولینو لپاره د ظرفیت لوړوني درې ورځنی ورکشاپ جوړ شو--------------------------------------------1
ګنو اروپایي هیوادونو د سوریایي پناه غوښتونکو قضیې ځنډولې--------------------------------------------------2
سازمان ملل: بیش از ۶ میلیون افغان در کشور شان آواره هستند--------------------------------------------------4
یک مرد در پیوند به قاچاق انسان به بیش از ده سال زندان در آلمان محکوم شد -------------------------------------5
کدام کشورهای اروپایی تصمیم‌گیری در مورد تقاضای پناهندگی شهروندان سوریه را تعلیق کرده اند؟ -----------------6

# متن کامل اخبار

## د ولایتي مسولینو لپاره د ظرفیت لوړوني درې ورځنی ورکشاپ جوړ شو

د وزارت ویب سایت



د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د مهاجرینو چارو وزارت د دویمو واحدونو رییسانو، آمرانو او اجرایوي مدیرانو ته د ظرفیت لوړونې درې ورځنی ورکشاپ د دغه وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شو.

د دغه ورکشاپ د جوړیدو هدف د مهاجرینو، د مهاجرینو ښارګوټو، د دویمو واحدونو، د هوکړه لیکونو سمې پلي کېدا او د مرکزي او دویمو واحدونو ستونزو ته د رسېدنې برخه کې د مدیریتي، رهبرۍ، پلان جوړونې، راپور ورکونې، مالي، څېړنیزو او معلوماتو د پوهاوي لوړاوی دی.

لومړی د وزارت د کارکوونکو چارو رییس مولوي سید مطیع الله خلوتي د خپل ریاست کاري موخې بیان کړې او د موخو د لا ښه پلي کېدو لپاره یې د دغه ډول ورکشاپ جوړورل یو ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه: د ادارې د غوره دفترداری او غوره حکومتولۍ لپاره اساسي شرط دا دی، چې مدیریت او رهبري ښه شي او علم او هنر ته لا زیاته پاملرنه وشي.

وروسته د وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني د اسلام د مبارک دین د احکامو او لارښوونو له نظره په نظام کې د چارواکو د کاري موخو په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: د نظام یو مسول باید درې ځانګړنې ولري: له الله جل جلاله څخه وېره، له نفسي خواهشاتو څخه ځان ساتل او ښه خدمتګار اوسېدل.

له الله سبحانه وتعالی څخه وېره تر ټولو غوره لامل دی چې انسان د الله تعالی له نافرمانۍ څخه لرې ساتي، د نظام د مسولانو لپاره تر ټولو غوره صفت دا دی چې له نفسي خواهشاتو ځان وساتي او د خپلې ټولنې رښتیاني خدمتګار واوسي.

ښاغلي فاني د ولايتي مسولينو د ورځنيو کارونو د پلي کولو او چمتو کولو په موخه د دغه ډول ورکشاپ جوړېدل مهم او اړين وګڼل او مظلومو مهاجرينو ته يې د ريښتيني خدمت پر وړاندې کولو ټينګار وکړ .

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزير الحاج خليل الرحمن حقاني د نن ورځې د پروګرام په اړه خبرې وکړې او ويې ويل: وياړم چې له ملت، اسلامي امارت او اطاعت سره په همغږۍ کې د خپل مسوليت د ترسراوي، د احکامو او الهي اوامرو پلي کولو او د اصلاح او ښه خدمت په موخه په دې ورکشاپ کې يوځای يو.

له څو لسيزو وروسته موږ د اسلامي حکومت، يووالي او اتفاق شاهدان يو، چې الله تعالی موږ ته يو واحد نظام را ډالۍ کړی دی، چې په ټوله کې اسلامي احکام پلي شوي دي .

د هېواد دښمنان غواړي چې په بېلابېلو لارو او په رنګارنګو دسيسيو حاکم نظام او يووالی بدنامی کړي.

ښاغلي حقاني ګډونوالو ته خطاب کې زياته کړه: د افغانستان خلک په تاسو باور لرئ او د الله تعالی او اسلامي امارت پر حکمونو عمل وکړئ. پر خلکو رحم او کرم ډېر کړئ او خلکو ته خپل ريښتيني خدمتونه ترسره کړئ.

نوموړي همدا راز له مسولينو وغوښتل، چې د ژمي د موسم له رارسېدو مخکې دې له همکارو بنسټونو سره په ښه همغږۍ له مهاجرينو سره بشري مرستې وکړي.

په نننی ورکشاپ کې د ملکي خدمتونو د انستيتوت استاد عبدالله فضل يار ګډونوالو ته د يو پريزنټېشن په ورکولو سره د رهبرۍ د ظرفيت لوړونې، پلان جوړونې او د مهمو عناصرو په اړه يې معلومات ورکړل.

## ګڼو اروپايي هيوادونو د سوريايي پناه غوښتونکو قضيې ځنډولې

مهاجرنيوز



په سوریه کې د بشار الاسد د رژیم له نسکوریدو وروسته، آلمان، بریتانیا، ایټالیا، ناروی، اتریش، هالنډ او نورو اروپایي هیوادونو د سوریې د پناه غوښتونکو د قضیو په اړه پریکړې ځنډولې. فرانسې هم هیله ښودلې چې ورته پریکړه به وکړي.

رویټرز خبري آژانس خبر ورکړی چې اروپایي هیوادونو د دوشنبې په وروسته وروسته له هغه د سوریایي پناه غوښتونکو د پناه غوښتنې د ځنډولو اعلان وکړ چې د ولسمشر بشار الاسد رژیم نسکور شو او نوموړی روسیې ته و تښتید.

د اروپایي هیوادونو دغه پریکړه به د هغو لسګونه زره سوریایانو د پناه غوښتنې پر قضیو اغیز وکړي چې د پناه غوښتنې د ځواب لپاره په اروپایي هیوادونو کې انتظار باسي.

آلمان په ۲۰۱۵ کال کې د سوریې د کورنۍ جګړې پرمهال د پناه غوښتونکو د ځېو پر وړاندې خپلې دروازې پرانیستې او دا مهال تر ټولو ډیر په اروپا کې سوریایي کډوال میشت دي چې شمیر یې شاوخوا یو میلیون تنو ته رسیږي.

د آلمان د کورنیو چارو وزارت د دوشنبې په ورځ وویل، تر هغه چې په سوریه کې سیاسي وضعیت روښانه نه شي، د سوریې د پناه غوښتونکو قضیې به و نه څېړي. بریتانیا هم ورته پریکړه کړې او د دغه هیواد د کورنیو چارو وزارت ویلي چې وضعیت ارزوي .

د بریتانیا حکومت د یوې طرحې له مخې د ۲۰۱۴ کال له مارچ څخه د ۲۰۲۱ کال تر فبروری پورې له ۲۰ زرو څخه ډیر سوریایانو ته پناه ورکړه.

آلمان؛ هغه هیواد چې تر ټولو ډیر سوریایي پناه غوښتونکي لري

د آلمان د کډوالو فدرالي اداري ( بامف) د شميرو له مخې، سږکال په دغه هيواد کې تر ټولو ډير سوريايي پناه غوښتونکو د پناه غوښتنه ثبت کړې. د نومبر ترپایه ۷۲۴۲۰ سوريايانو د پناه غوښتنې قضيې سپارلې چې ۴۷۲۷۰ قضيې د ځواب په تمه دي.

د بامف د کډوالی اداري په وينا د حکومت نوې پريکړه د هغو خلکو پر وضعيت اغيز نه کوي چې له وړاندې يې د پناه غوښتنې منل شوې دي. د آلمان د کورنيو چارو وزيرې نانسي فايسر په دې اړه وويل، د دوسيو ارزونې په سوريه کې په پرمختګونو پورې اړه لري او دا به ډير ژر وي چې ووايو آيا دغه هيواد ته بيرته ستنيدل خوندي دي.

د ناروې د کډوالی اداري چارواکو بيا ويلي چې د سوريې د پناه غوښتنې غوښتنليکونه به د اوس لپاره نه رد او نه قبول کړي.

ډنمارک هم د سوريې د پناه غوښتونکو قضيې درولي او ويلي يي دي، هغه سوريايان چې غوښتنليکونه يي له وړاندې رد شوې او د اخراج لپاره ورته وخت ورکړل شوی و، د ناڅرګند وضعيت له امله دوې ته د اوږدې مودې د پاتې کيدو اجازه ورکړل شوی.

د اتريش لومړی وزير کارل نيهمر خپل د کورنيو چارو وزارت ته لارښونه کړې چې د سوريې د پناه غوښتنې ټول غوښتنليکونه او د کورنی الحاق د اوس لپاره و ځنډوي. نوموړی ويلي، هغو خلکو ته چې د پناه غوښتنې قضيې يې منل شوي هم پر دوسيو يې له سره کتنه وشي.

د يونان حکومت يوې لوړ پوړې سرچينې رويترز ته ويلي چې يونان د شاوخوا نهه زره سوريايانو د پناه غوښتنې قضيې ځنډولې دي. د دغه هيواد چارواکي ويلي چې حکومت به د جمعې په ورځ د دې اقدام د نهايي کولو لپاره ناسته جوړه کړي.

د سويډن د کډوالۍ چارواکو د سوريايي پناه غوښتونکو د قضيو په اړه د نظر له ورکولو ډ ډه کړې.

د بريتانيا د بهرنيو چارو وزير ډيويډ لامي د سوريې د وضعيت په اړه خپل پارلمان ته ويلي چې سياسي بدلونونو سره ښايي په اروپايي هيوادونو کې د کډوالو شمير ډير شي .

د بهرنيو چارو وزير ويلي چې د سوريايي کډوالو بيرته ستنيدل خپل هيواد ته د يوې ښې راتلونکي لپاره يوه مثبته نښه ده. هغه وايي چې دا هر څه د سوريې وضعيت پورې اړه لري چې څه پيښيږي.

## سازمان ملل: بیش از ۶ میلیون افغان در کشور شان آواره هستند

مهاجرنیوز

کمیساریای عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان می‌گوید که بیش از ۶ میلیون افغان در افغانستان آواره هستند و به سرپناه نیاز دارند. به گفته این اداره، این رقم به دلیل افزایش بازگشت‌ها، بحران‌های طبیعی مانند زلزله و سیل و افزایش فقر و بیکاری، بالا رفته است.

کمیساریای عالی امور پناهندگان سازمان ملل در خبرنامه‌ای ماه اکتوبر خود که به تازگی منتشر شده نوشته که در سال ۲۰۲۴، بیش از ۶،۶ میلیون افغان در کشور خود آواره و بی‌سرپناه هستند. به گفته این اداره، شمار فزاینده بازگشت‌ها، و اثرات حوادث طبیعی مانند زلزله و سیل باعث شده رقم آوارگان داخلی افزایش یابد. افزون بر این، تشدید فقر و بیکاری نیز به عنوان عامل دیگری در افزایش افراد بی سرپناه نقش داشته است.

خبرنامه با اشاره به زمین لرزه مخرب اکتوبر ۲۰۲۳ در هرات نوشته که در این حادثه بیش از ۴۸ هزار خانه آسیب دیده یا ویران شده است، در حالی که در ۲۰۲۴ سیلاب در سراسر افغانستان بیش از ۱۸۴۶۰ خانه را متاثر یا ویران کرده است .

به گفته سازمان ملل، حوادث طبیعی ناشی از آب وهوا، در شرایط ناشی از چهار دهه جنگ، آسیب پذیری و نیازهای شدید به سرپناه را در سراسر کشور ایجاد کرده است.

خبرنامه می‌افزاید که سازمان ملل با اولویت دادن به موضوع سرپناه در سال روان، تلاش کرده است«راه حل‌ها برای سرپناه دائمی، کمک به ترمیم سرپناه‌های آسیب دیده و ایجاد سرپناه‌های اضطراری برای خانواده‌های آسیب دیده را» جستجو کند.

سازمان ملل برای راه‌حل‌های بلندمدت، ایجاد »پناهگاه‌های مقاوم در برابر بلایای طبیعی را که در برابر زلزله مقاوم باشند و دوام کمک‌ها را در مناطق زلزله‌خیز تقویت کنند» در دستور کار قرار داده است. این سازمان همچنان تلاش کرده است که با پرداخت‌های نقدی یک بار در ماه‌های زمستان، به خانواده‌ها کمک کند.

افزایش اخراج افغان‌ها از ایران وپاکستان

ارقام کیمساریای سازمان ملل درباره آوارگان داخلی افغان در حالی منتشر شده که رقم اخراج‌های اجباری و موارد بازگشت‌های داوطلبانه از ایران و پاکستان در سال روان افزایش یافته است.

در اوایل نومبر، یک مقام ایرانی در ولایت خراسان رضوی اعلام کرد که روزانه بیش از ۳۰۰۰ افغان تنها از مرز دوغارون به افغانستان اخراج می‌شوند.

مقام‌های ایرانی در سپتمبر امسال اعلام کردند که تا مارچ ۲۰۲۵ حدود دو میلیون خارجی را که عمدتاً افغان هستند از این کشور اخراج می‌کنند.

بر اساس ارقام رسمی سازمان ملل متحد، از نومبر ۲۰۲۳ تا جولای ۲۰۲۴ پاکستان حدود ۶۴۰ هزار افغان را مجبور به بازگشت به کشور شان کرده است.

در نیمه ماه اگست ۲۰۲۴ رسانه‌های پاکستانی گزارش دادند که که تنها در طی یک ماه بیش از ۳۲ هزار مهاجر افغان بی‌مدرک را اخراج کرده‌اند.

## یک مرد در پیوند به قاچاق انسان به بیش از ده سال زندان در آلمان محکوم شد

مهاجرنیوز




**یک فرد که متهم به قاچاق ده‌ها نفر در شرایط خطرناک در آلمان است، به بیش از ده سال زندان محکوم گردید. این مرد با انتقال پناهجویان در شرایط نامناسب، ده‌ها هزار یورو دریافت کرده بود.**

**یک محکمه آلمان، مردی را در پیوند به انتقال ده‌ها پناهجو به گونه قاچاقی محکوم به زندان کرده است. گفته می‌شود که این مرد، مهاجران را در شرایط نامناسبی که حتی زندگی شان را به خطر انداخته بود، به آلمان رسانده است .**

**بر بنیاد معلومات اداره سارنوالی شهر تراون‌اشتاین، این مهاجران در صندوق عقبی موتر و بخش‌های بارگیری به شکل خمیده جابجا شده بودند.**

**بر اساس اتهامات، این شهروند ترکیه که ۳۲ ساله است در یازده قضیه مسئول دانسته شده است. در بخشی از معلومات آمده است که این مرد هشتاد نفر را که ده کودک نیز در میان شان حضور داشتند، از چند مرز عبور داده و سرانجام به آلمان رسانده است. گفته می‌شود که پناهویان در بدل انتقال شان، ۵۴ هزار یورو پرداخته اند.**

**در بخشی از معلومات آمده است که این مرد در بیشتر موارد، قاچاق انسان ها را سازماندهی کرده، اما در یک مورد خودش رانندگی موتر حامل مهاجران را به عهده داشته است.**

**گفته می‌شود که موتر حامل مهاجران ظرفیت کمتر داشته، اما مهاجران بیشتر را حمل کرده و در صورت حادثه ترافیکی، پناهجویان در معرض خطر جدی قرار می‌گرفتند**

## کدام کشورهای اروپایی تصمیم‌گیری در مورد تقاضای پناهندگی شهروندان سوریه را تعلیق کرده اند؟

دویچه وله




پس از سقوط رژیم بشار اسد در سوریه، چندین کشور اروپایی اعلام کردند که تصمیم‌گیری در مورد درخواست‌های پناهندگی شهروندان سوریه را تعلیق می‌کنند. اتریش همچنین از برنامه‌هایی برای اخراج پناهجویان سوریه خبر داده است .

کشورهای سویدن، ناروی، دنمارک، سویس و بریتانیا روز دوشنبه اعلام کردند که تصمیم‌گیری در مورد دوسیه‌های پناهندگی شهروندان سوریه و همچنین اخراج آن‌ها را تعلیق می‌کنند.

اتریش برعلاوه تعلیق بررسی درخواست‌های پناهندگی شهروندان سوریه و الحاق اعضای خانواده آن‌ها، طرح اخراج پناهجویان به این کشور را اعلام کرد. کارل نهامر، صدراعظم اتریش به روزنامه آلمانی «بیلد» گفته است: «برنامه بازگشت و اخراج منظم به سوریه حالا زیر کار است «.

او افزوده است: «علاوه بر این، حق اقامت قبلاً اعطا شده نیز در حال بررسی است «.

حدود ۱۰۰ هزار شهروند سوریه در اتریش زندگی می‌کنند که یکی از بزرگترین جماعت سوریایی‌ها در اروپا است.

در آلمان اداره فدرال مهاجرت و پناهندگی (بامف) نیز روز دوشنبه تصمیم‌گیری در مورد درخواست پناهندگی شهروندان سوریه را تا زمانی که تصویری از وضعیت کنونی در سوریه ارائه شود، به حالت تعلیق درآورد .

حکومت فدرال آلمان با اشاره به وضعیت نامشخص سوریه فعلاً اجرای برنامه‌های بیشتری را در نظر ندارد. به گفته اداره فدرال مهاجرت و پناهندگی بیش از ۴۷ هزار درخواست پناهندگی از این تعلیق متاثر می‌شوند .

کارل بکسلیوس، رئیس بخش حقوقی اداره مهاجرت سویدن نیز گفته است که وضعیت در سوریه «شکننده است و رویدادهای اخیر چندین موضوع حقوقی را مطرح می‌کند که نیاز به تحلیل و بررسی عمیق دارند«.

**به گفته او، مقامات سویدن نیز اخراج‌ها را تا زمانی که وضعیت سیاسی در سوریه روشن شود، تعلیق می‌کنند. جیمی آکسون، رئیس حزب راستگرای دموکرات‌های سویدن از پناهجویان سوریه خواسته است به کشور خود برگردند.**

**سویدن در سال‌های ۲۰۱۵ و ۲۰۱۶ بعد از آلمان دومین شمار بزرگ پناهجویان سوریایی در اتحادیه اروپا را پذیرش کرد. از ۱۶۲ هزار و ۸۷۷ هزار پناهجویی که در سال ۲۰۱۵ در این کشور ثبت و راجستر شدند، ۵۱ هزار و ۳۸۸ تن از سوریه بودند .**

**اداره پناهندگی دنمارک نیز گفته است که «کار بر روی دوسیه شهروندان سوریه را به دلیل وضعیت نامعلوم در این کشور پس از سقوط رژیم اسد به حالت تعلیق در می‌آورد.» به گفته این اداره، در حال حاضر ۶۹ دوسیه از این اقدام متاثر می‌شود.**

**دنمارک به دلیل سیاست سختگیرانه پناهندگی‌اش شهرت دارد. در اواسط ۲۰۲۰ این کشور به عنوان اولین کشور اتحادیه اروپا بررسی مجدد دوسیه هزاران پناهجوی سوریایی را آغاز کرد. مقامات در آن زمان اعلام کردند که «وضعیت در دمشق «دیگر اجازه اقامت به پناهجویان را توجیه نمی‌کند، اما اخراج این پناهجویان اجرا نشد .**

**ناروی هم تصمیم خود مبنی بر «تعلیق درخواست‌های پناهندگی سوریایی‌ها را تا اطلاع بعدی» اعلام کرد. اداره مربوطه اعلام کرده است که دلیل آن «رویدادهای اخیر و تغییرات در سوریه است.» از اوایل امسال ۱۹۳۳پناهجوی سوریایی در ناروی تقاضای پناهندگی داده اند.**

**وزارت داخله فرانسه اعلام کرده است که «در حال کار بر روی تعلیق روند پناهندگی از سوریه است.» این وزارت گفته است که انتظار می‌رود در چند ساعت آینده در این رابطه تصمیمی اتخاذ شود. به گفته اداره مهاجرت فرانسه (Ofpra) در سال روان میلادی بیش از ۴۰۰۰ درخواست پناهندگی از سوی شهروندان سوریه ثبت شده است .**

**وزارت داخله بریتانیا نیز اعلام کرده است که تصمیم‌گیری پیرامون درخواست‌های پناهندگی سوریایی‌ها را تا زمانی که وضعیت فعلی «ارزیابی می‌شود، موقتاً به حالت تعلیق در می‌آورد «.**

**به همین ترتیب، سویس نیز به این کشورها پیوسته است. اداره مهاجرت سویس گفته است که «پروسه پناهندگی و تصمیم‌گیری‌ها برای پناهجویان سوریه را تا زمانی که وضعیت دوباره ارزیابی شود تعلیق می‌کند«.**